# له علم بیخبر ملا

داچي ته پری نه پوهیږی علم نه دي ملا مت
بی ځای نه دی چي ناپوه هیڅ نه باسي خجا لت
بی ثمر داوني ښاخ ترآسما ن پوري لوړیږي
هیڅ نا پوه له خپلو کړونو هیڅ نه اخلي عبرت
ته لاتراوسه داوها موپه سیند ونو کي لا هو یي
نا لید لي په گما ن غواړي حوری د جنت
تا ته نورانسا نا ن چی مسلم نه وی کافر دي
بیخبر چی ستا هرکړنه ډک له عیب اوجها لت
ته د خلکو په وړاندي په ریا ځا ن عالم بولي
اما ستا هر عمل تول د خلک دي په ذ لت
سردي ښکته په گریوان که ته نه پوه نه عالم یي
د ثروت په مقا بل کي تیر له شا ن اوله عزت
ته په اصل کی گمراه بیکا ره هسي لټا ر یی
بیغیرته بی ایما نه ناخرگند ستا اصا لت
دنا لوست خلکوپه مخ کي ځا ن گنی پر هیزگا ر
(مل) ستا اعمال لید لي ډک له عیب اوشرارت
****

پو هندوی دوکتور سیدحسام «مل»
جرمنی ۲۰۱۶-۱۱-۲۲